


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه، علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست !

---

# د مولانا داکتر محمد سعيد « سعيد افغانی » ليکنه

د نشر نيټه : 16 جون 2016 م

# د اسلام په رڼا کی د ډندو پيژندل

اسلام د ټول بشر دپاره آسمانی آخرئ مکمل قانون دی. د وظايفو د مباديو د فارمول د مثبت سوچه او سپيڅلی حرکت پيژندنه او وربانډی باور او د فرصت سره برابر پری جدی عمل کول دی .

ګرانو لوستونکو: دا کومه داسی دعوی نه ده چی صرف په خوش بينی اتکا ولری ، بلکه د دی دعوی تصديق د آسمانی او ځمکی اديانو او قوانينو د مقايسی او مقارنی څخه ورسته دعقل او تدبير خاوندان ښه کولی شی ...

په اسلام کښی اوامر او نواهی ، حلال او حرام ، ښه او بد د خلکو د طبعی آزادی تمايل په اساس بنا ؛ او د اخلاص ، مينی ، محبت او اجتماعي عدالت راز لری.

علامه اقبال وايی :

گرجهان داند حرامش را حرام
تا قيامت پخته ما ند اين نظام

بايد منصفانه قضاوت وشی چه د خلکو د روابطو د محکمو او مطمئن ژوند د برابرولو د پاره اسلامي اخلاق ، صلحه رحم او عاطفه او بی الايشه مرستی تر کومی اندازی پوری حياتی ګډ قيمت او ارزښت لری .

پدی اساس د اسلام مقدس دين وروسته لدی څخه د وظايفو معقول متين او طبيعی فور مولونو يی خلکو ته وضع کړی او ښودلی دی .
د خلکو مکلفيت اوپه خپلو فردی او اجتماعي وظايفو باندی عمل دهر چا د توان او قدرت سره برابر اعلان کړی دی . لکه چه الله ( ج ) فرمايی :
« لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا .... ( سوره ٢ : البقرة ـ جزء ٣ ايه ٢٨٦ ) »

---

یعنی الله پاک څوک په کوم کار مامور کړی نه دی ، مگر ؛ د هغه دوستی او طاقت په اندازه .
او په دی آیه مبارکه کی :
« وَأَنْ لَيْسَ لِلْإِنْسَانِ إِلَّا مَا سَعَى .. ( سوره ۵۳: النجم - جزء ۲۷ ایه ۳۹ ) »
یعنی انسان لره د ده د سعی د اندازی څخه زیات اجر او مزد نشته په دی اساس د خلکو د مکلفولو څخه وروسته باید کار او عمل او موفقیت د نظر لاندی ونیول شی، او دخلکو مکافاتونه نه د کارونو د انجامو لو په توازن د نظر او تطبیق لاندی شی.

البته د کار په کیدو او نه کید و کښی د مکافات او مجازات تطبیقول باید ډیر دقیق وی ځکه چی له همدغه ځایه د اجتماعي بنسټ د تقویه کیدو نړیدو مواد برابرېږی.
مونږ د اسلام په مقدس دین کښی گورو چه انسان په پوره تائید د عمل او کار په خوا د عوت شوی لکه چه الله پاک فرمائی :
اعْمَلُوا فَسَيَرَى اللَّهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُولُهُ وَالْمُؤْمِنُونَ .. ( سوره ۹: التوبة - جزء ۱۱ ایه ۱۰۵ ) »
کار او عمل وکړی خدای پاک پیغمبر ( ص ) او ایمان داره خلک د تاسو کارونه گوری . او یا په بل ځای کی : « إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجْرَ مَنْ أَحْسَنَ عَمَلًا ( سوره ۱۸: الكهف - جزء ۱۵ ایه ۳۰) » دا وعده ده چی فرمائی : مونږ د ښوکارونو د کونکو اجرا و مزد نه ضایع کوو.

اسلام د جائز عیش او د پاکي روزی دلاس ته راوړو طرفداری او موید دی. الله پاک خپل پیغمبر ته فرمائی: « قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِينَةَ اللَّهِ الَّتِي أَخْرَجَ لِعِبَادِهِ وَالطَّيِّبَاتِ مِنَ الرِّزْقِ ( سوره ۷: الأعراف- جزء ۸ ایه ۳۲ » ترجـــمه : ته و وایه ورته چه دا پاک رزقونه خوراکی مواد او ددنیا دښایسته او زینتی شیانو څخه مشروعه اوجائز استفاده چا په خلکو باندی حرامه او بنده کړی ده .

یعنی د اسلام په دین کښی د پاکی روزی د لاس ته راوړلو د جائز عیش او نوش او د ښایسته شیانو څخه جائز نه استفاده منع نه ده او نه د چا لاس او وسایل له دی څخه بند شوی دی چه خپل حیاتی شیان لاس ته راولی .

حضرت محمد صلی الله علیه وسلم فرمایی :
(( عمل ادنیاک کانک تعیش ابداواعمل لاخر تک کانک تموت غدا )) د دنیا د پاره داسی قوی او پاخه کارونه کوه لکه چه د تل دپاره ژوند کوی او د آخرت او عواقبو خیال دومره قوی ساته لکه چه سبا مری اود عواقبو سره مخامخ کیږی .

حضرت محمد (ص ) په دی روحیی فرمائی :
که رسی واخلی لرگی وکړی او رائی وړی او خرڅ یی کړی اوله دی لیاری څخه روزی په حلال راوړی دا درته له دی څخه ښه ده ، چه سوال او گدائی وکړی څوک څه درکړی او که نه .
فرمائی : « الید العلیا خیر من الید اسفلی » : پاسی لاس چه چاته څه ورکوی دلاندی لاس څخه کوم چه خیرات دربالدی اخلی بهتر دی .
په بل ځای کښی فرمائی :
« المومن القوی خیرمن المومن الضعیف » : قوی مومن د ضعیف مومن څخه یعنی کاری مسلمان د بیکاره مسلمان څخه ښه دی .

حضرت عمر فاروق (رض) فرمائی : باید یود تاسو هم د روزی د پیدا کولو څخه غافل او بی پروا نشی . حال داچه بی کاره خلک په دی پوهیږی چه د آسمانه خو چاته سره او سپین زر نه اوری .

مونږ ګورو چه مسلمانانو په حساب الجبر او هندسه کښی ډیر پرمخ تک وکړه او خوارزمی په مسلمانانو کښی هغه څوک دی چه دالجبر فارمولو نه یی اختراع کړل او په خپل کتاب قران کریم کښی لاتین ته ترجمه شو او د اروپا په پوهنتونو کښی ترشپاړسم قرنه پوری ور څخه استفاده کیدلی چه تراوسه لا د الجبرفارمولونو په الجبر یادیږی.

وروسته بیا دغه کتاب ټول او یاڅه برخی په مختلفو ژبو ترجمه شو مسلمانانو دالجبر فارمولو نه تحلیلی هندسی د پاره اساس وګرځول چه ترننه ورڅخه استفادی کیږی.
راځی تاسو د « ابن الهشم » دهندسی په بحثونو کښی مطالعه وکړی ، چه دی څنګه مکعبی معادلی په مخر وطی ټوټومینځ ته راولی . اود مساحه په حقله دده ابتکارات څومره ارزښ لری .

د مامون خلیفه په عصر کښی د طول البلد درجې وښودلی د بطیموس خطاوی اصلاح کړی . او ډیری رصد خانی جوړی او مجهزی شوی او د ارتفاع مقایس مینځ ته راغلی او اسطرلاب جوړ شو .

د ستورو او نور ته په خوا توجه د آبی العباس الفرغانی د مد خل د کتاب څخه وروسته شروع شو ه . د دغه کتاب په کال « 1235 » کښی یو خاشبیلی په لاتین ژبی ترجمه کړو او د ابی ریحاب بیرونی مساعی د ستورو د معلوماتو په حقله دستایش وړدی .

خوارزمی زیج او تقویم البلد ان په واسطی حیرانیدو نکی ابتکارات وکړل.

د طب او دوا جوړولو په حقله د ابن سینا د « القانون » کتاب او درازی تالیفات تر ننه پوری د دنیا د خلکو توجه جلبه کړی ده او په اروپا کښی نن هم د ابن سینا « القانون » کتاب ته د طب چینه ویل کیږی . او هلته زیات د پنځلسو وارو څخه چاپ شوی او په مختلفو ژبو او ښتی دی .

په کیمیا کښی د جابر جهان او رازی اکتشافات تر ننه پوری د وظیفه پیژند لو ثبوت ورکوی د فخر وړدی .

**خلاصه دا چه :**
**د اسلام د روښانه زرو کارونه او اختراعات او اکتشافات زښت زیات او د واقعی مسلمانانو حرکت او پرمخ تګ لکه چه رنیان فرانسوی مشهور فیلسوف وایی د علم مدنیت اوادب حرکت او پرمخ تګ پوره شپږ قرنه د مسلمانا نو په لاس کی وه او په دی برخه کی مسلمانان د اروپا ، استاذان دی .**

سعید افغانی
١٣٥٢ هجری شمسي
کابل ـ افغانستان

ترتیب کوونکی : برهان الدین « سعیدی »

www.said-afghani.org – بارګشت به صفحه اصلی